# د خوفِ خدا حاصلولو طریقے

**16-September-2021**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښي کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د خوفِ خدا حاصلولو طريقے

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ		وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ		وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، نو په ياد سره د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې په جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د مخكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

**خاتَمُ النَّبِيّين، اِمامِ الْاَنْبِيَاء** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چا چې په كتاب كښې په ما دُرُودِ پاك اوليكلو، ترڅو پورې چې زما نوم په هغې كښې وي، فرښتے به د هغه د پاره [مسلسل] د بخښنې دُعاګانې كوي. [(1)]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!		صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] …معجم اَوْسط، جلد:1، صفحه:497، حديث:1835۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعنې) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.(1)

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو:

نِيَّت اوكړئ چې، ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور سره به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په 7 صَفَرُ الْمُظَفَّر د عالَمِ اسلام د عظيم شخصيت شيخُ الْاِسْلام حضرت بَهَاءُ الدِّين زَكَرِيَّا ملتانى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عُرسِ پاك وي. ❀ حضرت بَهَاءُ الدِّين زَكَرِيَّا ملتانى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په 27 رَمَضَانُ المُبارك، 566 هجرئ كښې د صوبه پنجاب په ښار لَيَّه كښې پيدا شوے وو، ❀ د خوږ نبي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په آباء و اجدادو كښې يو بُزُرګ قُصَىّ بِنْ كِلاب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه تير شوے دے، حضرت بَهَاءُ الدِّين زَكَرِيَّا ملتانى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د هغوئي په اولاد كښې دے، ❀ حضرت بَهَاءُ الدِّين زَكَرِيَّا ملتانى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډير

[1]...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

د اوچتې مرتبے والا، عالِم، عابِد، زاهِد، مُتَّقِـي، پرهيزګار، زبردست مُبَلِّغِ اسلام او پيدائشي ولــئ كامِل وو.

مكتبةُ المَدينه د "فيضانِ بَهاءُ الدِّين زَكَرِيَّا ملتانی" رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په نوم د هغوئي په سيرت باندې يوه رساله چاپ كړې ده، راځئ چې د حضرت بَهَاءُ الدِّين زَكَرِيَّا ملتانی رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه يوه واقعه واورو:

## د الله پاك د خُفيه تدبير ويره (واقعه)

د يو ځل واقعه ده: په حضرت بَهَاءُ الدِّين زَكَرِيَّا ملتانی رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د **خوفِ خُدا** دومره غلبه اوشوه چې هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خپلې حُجرے شريفې ته داخل شو، دروازه ئې بنده كړه او په سجده پريوتلو، توبه او استِغفار ئې شروع كړو، د سترګو نه ئې اوښكې روانې وے او د **خوفِ خُدا** نه ئې سينه خوټكيدله، دومره ئې اوژړل چې مُصَلّٰـی ئې په اوښكو **لَمْدَه** شوه، د هغوئي صاحبزادګان او مريدان د دې ناڅاپه حالت نه سخت پريشانه شو، د حضرت بَهاؤالدِّين زَكَرِيَّا مُلتاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د ژړا آواز دومره ډير اوچت وو چې د ټولو زړونه ئې درزول، صاحبزادګانو او مريدانو ډير ځله د حُجرے شريفې دروازه اوډبوله، درخواست ئې اوكړو چې: جناب! دروازه بيرته كړئ! خو حضرت بَهاؤالدِّين زَكَرِيَّا مُلتاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په **خوفِ خُدا** كښې داسې ډوب وو چې د ټولو خلقو نه بے پرواه ئې په زوره زوره ژړل، آخِر كار د هغوئي نمسے شاهِ رُكنِ عالَم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه راوستلے شو، حضرت بَهاؤالدِّين زَكَرِيَّا مُلتاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به د خپل نمسي سره ډير **محبت** كولو، شاه رُكنِ عالَم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه دروازه اوډبوله او دوه درې ځله ئې په زوره آواز اوكړو: باباجانه! دروازه بيرته كړئ، نو شيخ الاسلام رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه راپاڅيدلو، دروازه ئې بيرته كړه او شاه رُكنِ عالَم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته ئې د دننه راتلو اجازت وركړو. شاه رُكنِ عالَم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې دننه ورغلو نو په دې

ډير زيات حيران شو چې د شيخُ الاسلام سترګې پرسيدلي دي، دومره ډير زيات ئې ژړلي وو چې اوښکې ئې ختمې شوي وے او اوس ئې د مبارکو سترګو نه وينې څڅيدلې. دا زړه درزَوُونکے منظر ئې چې اوليدلو نو شاه رُکنِ عالَم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عرض اوکړو: بابا جانه! د دومره ژړا سبب څه دے؟ حضرت شيخُ الاسلام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې څه اوفرمائيل، هغه د زړه په غوږونو واورئ! ارشاد ئې اُوفرمائيلو: بچيه! ما په عالَمِ مُکاشَفَه کښې اوليدل چې يو کس دے، د هغه نوم هم "بَهاؤُالدِّين" دے، د زُهد او تقوٰی مالك دے، په علم و عمل کښې د خپل وخت سردار دے، د هغه انتقال شوے دے، خو د ډيرو کلونو عبادت، تقوٰی او پرهيزګاري ئې په کار رانغله، د هغه ټول اعمال د هغه په مخ ور ويشتلے شو او اِيمان ترينه سلب کړے [يعني واخستے] شو، ما چې د هغه کس دا حال اوليدو نو په ما ويره راغله چې يو هُغه بَـهاؤُ الدِّين وو، چې د هغه عبادت و اطاعت د هغه په کار رانغلو او د هغه اِيمان سلب کړے شو او يو زه يم، معلومه نه ده چې زما سره به څه مُعامَله کيږي.

کاش کے نہ دُنیا میں پیدا مَیں ہوا ہوتا
قبر و حَشر کا سب غم ختم ہو گیا ہوتا
دو جہاں کی فکروں سے یُوں نجات مل جاتی
میں مدینے کا سچّا کُتّا بن گیا ہوتا
آہ! سلبِ ایماں کا خوف کھائے جاتا ہے
کاش! کہ مری ماں نے ہی نہیں جنا ہوتا[1]

حضرت بَـهاؤُ الدين زَکَرِيَّا مُلتاني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نور اوفرمائيل: بچيه! د مِيثاق په ورځ (يعني) عالَمِ ارواح کښې چې کله **الله** پاك ټول روحونه جمع کړل، او ارشاد اوشو:**اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ** يعني آيا زه ستاسو ربّ نه يم؟ روحونو اقرار اوکړو:**بَلٰی** يعني مولٰی! ولے نه، ته زمونږه ربّ ئې. بيا ټولو روحونو ته حکم اوشو: زه ستاسو ربّ يم ما ته سجده اوکړئ. په دې حکم ډير روحونه په سجده پريوتل او څه ولاړ پاتې شو، **الله** پاك بيا د سجدے

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:158تا160۔

حكم اوكړو، په دې څل نور ډير روحونه د سجده كوونكو سره شامل شو او **اللّٰه** پاك ته ئې سجده اوكړه، دې دواړو ډلو ته **مُخْلِصِين** اووئيل شو، كومو چې په اوّل حكم سجده كړې وه هغه **مَسْعُود** (يعنې سعادت مند) شو او كومو چې په دويم حكم سجده كړې وه هغه **مَحْمُود** (يعنې د ستائنې قابل) شو خو كومو چې د **اللّٰه** پاك حكم اونه منلو، دواړه څله ئې سجده اونكړه هغوئي په دُنيا او آخرت كښې په نقصان كښې پاتې شو. دومره وئيلو نه پس حضرت شيخُ الاسلام رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه په ژړا شو او اوئې وئيل: بچيه! ما ته معلوم نه دي چې زه په كومه ډله كښې ووم، هائے افسوس! كه زما شمير هم نقصان موندونكو كښې اوشو نو زما به څه كيږي...؟

آج بنتا ہوں معزز جو کھُلے حشر میں عیب
آہ! رُسوائی کی آفت میں پھنسوں گا یارَبّ
گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہو گی
ہائے میں نارِ جہنّم میں جلوں گا یارَبّ
دَرْدِ سَر ہو یا بُخار آئے تَڑپ جاتا ہوں
میں جہنّم کی سزا کیسے سہوں گا یارَبّ
عَفْو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا
گر کرم کر دے تَو جنّت میں رہوں گا یارَبّ[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت بَـهاؤُ الدين زَكَرِيَّا مُلتاني رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه ولئ كامِل وو او د هغوئي نمسے شاه رُكنِ عالَم رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه هم پيدائشي ولي وو، **اللّٰه** پاك شاه رُكنِ عالَم ته د **قطبِيَّتِ عُظمٰى** درجه وركړې وه، چې كله هغوئي د خپل نيكه مبارک حضرت بَـهاؤُالدين زَكَرِيَّا مُلتاني رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه نه په **خوفِ خدا** كښې ډوب دا كلمات واوريدل نو په ډير ادب ئې عرض اوكړو: باباجانه! تاسو تسلي لرئ! ستاسو مبارك روح د **مُخْلِصِينو** نه وو، تاسو په هغه ډله كښې ئې كومو چې د **اللّٰه** پاك په حضور كښې سجده كړې وه. حضرت شاه رُكنِ عالَم رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه خپل نيكه مبارک ته د تَسَلّـئ نورې خبرې هم اوكړې، د دې خبرو په اوريدو حضرت بَـهاؤُالدين زَكَرِيَّا مُلتاني رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه ته لږه تَسَلِّـي

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:85۔

اوشوه او هغوئي په ډيره عاجزئ د **الله** پاك په حُضُور كښې سجدهٔ شُكر ادا كړه، بيا ئې بَهر ته تشريف راوړو او مريدانو ته ئې د ملاقات شرف وركړو. (1)

## خوفِ خُدا نصيب كيدل سعادت دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوكړئ! حضرت بَـهاؤُالدين زَكَرِيَّا مُلتاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پيدائشي ولئ كامِل وو، د ګناهونو نه به ئې ځان ساتلو، شپې او ورځې به ئې په نيكو كښې تيريدلې، د دې باوُجود د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله د ويرې دا عالَم وو.... كاش چې مونږ ته هم د الله د ويرې داسې كيفِيَّت رانصيب شى.

حقيقت دا دے چې د **الله** پاك د پټ تدبير نه، د **الله** پاك د ناراضئ نه، د **الله** پاك د قهر و غضب نه هغه انسان ويريږي كوم چې سعادت مند وي. په تفسير رُوحُ المَعَانِـي كښې دي: چې كله ابليس لعين (شيطان) مردُود شو يعني حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلام ته د سجده نه كولو په جرم كښې د **الله** پاك د بارګاه نه اوشړلے شو، د دې په ليدلو حضرت جبريل او حضرت ميكائيل عَلَيْهِما السَّلام په ژړا شو، **الله** پاك اوفرمائيل: تاسو څه څيز اوژړولئ؟ عرض ئې اوكړو: اے ربه! مونږه ستا د پټ تدبير نه بے ويرې نه يُو، ارشاد اوشو: هُم داسې اوسئ، زما د پټ تدبير نه مه بے ويرې كيږئ. (2)

تِرے خوف سے ' تیرے ڈر سے ہمیشہ		میں تھر تھر رہوں کانپتا یااِلٰہی!
مِرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دَم		ترے خوف سے یا خُدا یااِلٰہی!

## د اِيمان د سلامتيا د هيڅ چا سره ګارنټي نشته

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د **الله** پاك ډير ډير احسان دے چې هغه مونږه

1 ...فیضانِ بہاءُ الدِّین زکریا ملتانی، صفحہ:4544 خُلاصةً۔
2 ...تفسیر رُوح المعانی، پارہ:19، سورۂ نمل، زیرِ آیت:10، جز:19، صفحہ:217۔

انسانان جوړ کړې يُو، مسلمانان کړې ئې يو، د خوږ آقا اُمَّتيان ئې جوړ کړې يو، بيشکه مونږه مسلمانان يو، خو په مونږ کښې د هيڅ چا سره څه ضمانت نشته چې هغه به د مرګه پورې مسلمان پاتې شي، څنګه چې بيشميره کافران مسلمانيږي، دغه شان د ډيرو بدنصيبو مسلمانانو مَعَاذَ الله ! بے ايمانه کيدل هم ثابت دي. آه! څوك چې اِيمان پريږدي يعني کافِر او مُرتَد مړ شي، هغه به هميشه هميشه په دوزخ کښې اوسي. په دويمه سيپاره سورۂ بَقَره، آيت نمبر 217 کښې ارشاد دے:

وَ مَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَ هُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓىٕكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ ۚ وَ اُولٰٓىٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾

**ترجمۂ کنز العرفان:** او په تاسو کښې چې څوك د خپل دِين نه مُرتَد شي، بيا کافِر مړ شي نو د هغه خلقو ټول اعمال په دُنيا او آخرت کښې برباد شو او هغوئي د دوزخ خاوندان دي، هغوئي به په هغې کښې هميشه اوسي.

په يو اوګږد حديثِ پاك کښې د **الله** پاك آخري نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: د آدم عَلَيْهِ السَّلَام اولاد په مختلفو طبقو پيدا شوے دے، په دوئ کښې بعضې مُومِن پيدا شوي دي، د اِيمان په حالت کښې ژوندي اوسيدل او مُومِنان به مري. بعضې کافِر پيدا شوي دي، د کفر په حالت کښې ژوندي اوسيدل او کافِر به مري. او بعضې هغه دي کوم چې مُومِنان پيدا شوي دي، د اِيمان په حالت کښې ژوندي اوسيدل خو کافِر به مري، بعضې کافر پيدا شوي دي، د کفر په حالت کښې ژوندي اوسيدل او مومنان شوي به د دُنيا نه ځي.[1]

ايماں پہ رَبّ رحمت دے دے تُو استقامت　|　ديتا ہوں واسطہ ميں تجھ کو ترے نبی کا[2]

---

1 …ترمذی، کتابُ الفِتَن، صفحه:528، حديث:2191۔

2 …وسائِلِ بخشش، صفحه:178۔

## د پټ تدبير نه غافله كيدل سخت نقصاني دي

اے عاشِقانِ رسول! مونږ له هر وخت د **الله** پاك د پټ تدبير نه په ويره كښې اوسيدل پكار دي چې د **الله** پاك د پټ تدبير نه غافله كيدل سخت نقصاني دي، په قرآنِ كريم كښې دي:

فَلَا یَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ۠ (۹۹) (پارہ:9، سورۂ اعراف، آیت:99)

ترجمه كنز العرفان: نو د الله د پټ تدبير نه صرف تباه كيدونكي خلق بے ويرې وي.

علماء فرمائي: د الله د پټ تدبير نه بالكل بے ويرې كيدل گناهِ كبيره ده. (1)

## د حضرت سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خوفِ خُدا

حضرت سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اوچتې مرتبے عالِمِ دين، ډير لوئي مُحَدِّث او ولئ كامِل وو، د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مُتَعَلِّق منقول دي چې د هغوئي ملا په ځوانئ كښې ټيټه شوې وه. خلقو ډير ځله د دې په باره كښې د معلومولو كوشش اوكړو خو حضرت سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به څه جواب نه وركولو. يو ځل د هغوئ يو شاگرد په ډيره عاجزئ سره د وجهې معلومولو په باره كښې په ډيره زارئ مسلسل تپوس اوكړو نو اوئې فرمائيل: زما يو اُستاذ وو، د هغوئي شمير په غټو عُلماؤ كښې كيدو، ما د هغوئي نه ډير علوم زده كړي وو، چې كله د هغوئي د وفات وخت راغلو نو ما ته ئې اوفرمائيل: اے سُفيانه! آيا تا ته معلومه ده چې زما سره څه مُعامَله پيښه شوې ده؟ ما د پنځوسو 50 كالو پورې د **الله** پاك مخلوق ته د **الله** پاك د اطاعت كولو او د گناهونو نه د بچ كيدلو تلقين كولو خو افسوس! نن زه وفات كيدو والا يم نو **الله** پاك زه د خپل دربار نه اوباسلم، ما ته ئې

1 ...جهنم ميں لے جانے والے اعمال، جلد:1، صفحه:291۔

اُوفرمائيل چې ته زما په بارګاه کښې د راتلو اهليت نه لرې.

د خپل اُستاذ دا خبره مې چې واوريدله نو د عبرت په وجه زما ملا ما ته شوه، چې د هغې د ماتيدلو آواز هلته موجودو خلقو واوريدلو. ما به د **اللّٰه** پاك د ويرې اوښکې بهيَولې او سخت بيمار شوم.[1]

| | |
|---|---|
| فِکرِ مَعَاش بَدبَلا، ہَولِ مَعَاد جاں گُزا | لاکھوں بَلا میں پھنسنے کو رُوح بدن میں آئی کیوں؟ |

**وضاحت:** يعني د ژوند تيرولو اسباب مثلاً د خوراك څښاك فِکر! د قبر د تنګئ او د قيامت د سختو ويره! داسې په لکونو مصيبتونو کښې اخته کيدلو د پاره رُوح زما بدن ته ولے راغلے دے...؟ [يعني کاش چې زه هډو پيدا شوے نه وے]

## حقيقي سعات مند څوك....؟

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دُنيا په ژوند کښې مُومِن کيدل يقيناً د سعادت خبره ده، خو دا سعادت په حقيقت کښې په هُغه صورت کښې سعادت دے چې د دُنيا نه رُخصتيدو په وخت اِيمان سلامت پاتې شي. قَسَم په خدائے! بختور هُغه دے څوک چې په قبر کښې مُومِن دے. آو! چا چې د دُنيا نه اِيمان سلامته يوړلو هم هُغه په حقيقي معنو کښې کامياب دے او څوك چې جنت ته داخل شي هغه مراد حاصل کړو. **اللّٰه** پاك په سيپاره 4، سورۂ آلِ عمرٰن، آيت: 185 کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَؕ (پارہ:4، سورۂ آلِ عمرٰن، آیت:185) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو څوك چې د اور نه بچ کړے شو او جنت ته داخل کړے شو نو هغه کامياب شو. |

1 ...خوفِ خُدا، صفحه:80۔

بس **الله** پاك دِ په مونږه رحم اوفرمائي، د ځنكدن په وخت كښې معلومه نه ده چې زمونږ به څه حال وي؟ مونږه ډير ګناهونه كړي دي، نيكۍ راسره نشته، مونږه دُعا كوو چې: اے **الله** پاكه! د ځنكدن په وخت كښې مونږه د شيطان نه بچ اوساتې، د ځنكدن په وخت كښې مونږ ته د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښكلے ښكلے ديدار رانصيب كړې، كاش چې! په مدينهٔ منوره كښې، د شين شين ګنبد لاندې، د ښكلو ښكلو جالو مخې ته د خوږ مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار په نظارو نظارو كښې په ايمان سره مرګ رانصيب شي.

نَزع کے وقت مجھے جلوۂ محبوب دکھا | تیرا کیا جائے گا میں شاد مروں گا یا رَبّ[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د **الله** پاك د بے نيازۍ او د هغه د پټ تدبير نه هر مسلمان له ويريدل پكار دي. معلومه نه ده چې په كومه ګناه باندې الله ناراضه شي او د اِيمان د پاره خطره پيدا شي. بس هر وخت د **الله** پاك په بارګاه كښې عاجزي كول پكار دي. علماء فرمائي: چا ته چې په ژوند كښې د سَلبِ اِيمان (يعنې د اِيمان بربادېدو) ويره نه وي، د ځنكدن په وخت د هغه د اِيمان سلب كيدو خطره ده. [2]

زندگی اور موت کی ہے یاالٰہی کشمکش | جاں چلے تیری رِضا پر بےکَس و مجبور کی

## د امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوفِ خدا

شيخِ طريقَت، اَميرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا ابوبلال محمد الياس عطّار قادِري رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په خپل كتاب "**نیکی کی دعوت**" صفحه 585 كښې يو اِيمان افروز حكايت نقل كوي، فرمائي: حضرت امام جعفر صادق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د

1 ...وسائِلِ بخشش، صفحه:۔
2 ...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:495۔

ډيرې اوچتې مرتبے خاوند دے، د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عمر مبارك چې كله څلور كاله وو، هغه وخت د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د الله د ويرې دا حالت وو چې يوه ورځ ئې په چغو چغو ژړل، يو صاحِب چه د آلِ رسول د خدمَت جذبه ئې لرله، ورته ئې عرض اوكړو: شهزاده! څه خبره ده؟ كه د څه څيز ضرورت وي نو ما ته حكم اوكړئ! چه اوس ئې په دې ساعت درته راوړم. دا ئې چه واوريدل نو د حضرت امام جعفر صادق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ژړا اواز نور هم اوچت شو او اوئې وئيل: كاكا جانه! د **الله** پاك د غضب او د جَهَنَّم د عذاب د ويرې نه مې زړه رپيږي! هغه صاحِب ورته په مِينه عرض اوكړو: شهزاده! اوس خو لا تاسو ډير وړوكے ئې، د اوس نه دومره ولے يَريږئ؟ اطمينان ساتئ! ماشومانو ته به عذاب نه وركولے كيږي. دا ئې چه واوريدل نو حضرت امام جعفر صادق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خپله نوره ويره ښكاره كړه او په ژړا ژړا ئې اووئيل: كاكا جانه! ما ليدلي دي چه د غټو لرګو سوَزَوَلو د پاره د هغې خوا ته واړه واړه چخچي او د لرګو پوستكي راتاؤ كړے شي، دا واړه لرګي زر اور اَخلي او د دې په وجه بيا غټ لرګي اور اخلي او سوَزي! زه يريږم چه هسې نه كله چه د ابوجهل او ابولَهَب په شان غټ غټ كافران په جَهَنَّم كښې سوزَوَل كيږي نو د هغوئي د سوَزَوَلو د پاره د وړو لرګو په ځائے ما اور ته غوزار نه كړي!

## د خوفِ خُدا په وجه د ژړا فضيلت

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** غور اوكړئ! حضرت امام جعفر صادق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په وړوكوالي كښې د **الله** پاک څومره ويره لرله. **الله** پاك دِ مونږ ته هم د **خَوفِ خُدا** نِعمَت راكړي، يقيناً د **الله** په ويره او عِشقِ مصطفٰى كښې ژړل عظِيمُ الشَّانه نيكي ده. په حديثِ پاك كښې دي: د كوم مُومِن د ستركو نه چې د الله د ويرې په وجه اوښكي

اوځي اګرچې د مچ د سر برابر وي، بيا هغه اوښكې د هغه د مخ ښكاره حِصّے ته اورسي نو **اللّٰه** پاك هغه په جَهَنَّم باندې حرام كړي. (1)

## د حضرت اِبراهيم او حضرت يَحيٰي عَلَيْهِمَا السَّلَام خوفِ خُدا

په **احياء العُلُوم** كښې دي: د **اللّٰه** پاك خليل حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام به چې كله د لَمانځه د پاره اودريدلو نو د **اللّٰه** د ويرې به ئې دومره ژړل چې د يو ميل (تقريباً يو نيم كلوميټره) پورې به ئې د سينے د خوټكيدو آواز اوريدے شو. (2)

د **اللّٰه** پاك نبـي حضرت يحيٰي عَلَيْهِ السَّلَام د **اللّٰه** پاک ډيره ويره لرله، چې كله به هغوئي د لَمانځه د پاره اودريدلو نو دومره به ئې ژړل چې ونو او د خاورو لوټو به هم ورسره ژړل. حضرت يحيٰي عَلَيْهِ السَّلَام به د اللّٰه د ويرې نه مسلسل ژړل، تر دې چې مسلسل د اوښكو بهيدلو په سبب د هغوئي مخ مبارك زخمي شوے وو. (3)

**اللّٰه** پاك دِ مونږ ته هم د اللّٰه د ويرې نه ژړل را نصيب كړي. د **اللّٰه** پاك آخري نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د اللّٰه د ويرې نه ژړيدونكے به هيڅ كله دوزخ ته داخل نه شي تر دې پورې چې شوده تيُونو ته بيرته لاړ شي. (4)

**مُفسّرِ قرآن، حضرت** مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې ليكي: مطلب دا دے چې څنګه د تيُونو نه وتونكي شـوده بيرته تيُونو ته تلل ممكن نه دي، داسې د اللّٰه د ويرې نه د ژړيدونكي كس دوزخ ته تلل ناممكن دي. (5)

---

1 …شُعَبُ الْاِیْمان، جلد:1، صفحه:490، حديث:802۔
2 …احياءُ العلوم مترجم، جلد:4، صفحه:533۔
3 …نیکی کی دعوت، صفحه:274۔
4 …ترمذی، کتاب: فضائلِ جهاد، صفحه:415، حديث:1633۔
5 …مرآةُ المناجیح، جلد:5، صفحه:436۔

# خوفِ خُدا د ”اِيمان“ تقاضه ده

اے عاشِقانِ رسول! د **الله** پاك ويره ډير لوئي نعمت دے، د الله د ويرې نه ژړل د انبياؤ سُنَّت دي، د الله د ويرې نه ژړل د نيكو خلقو علامت دے بلكه كه مونږه غور اوكړو نو د الله ويره زمونږ د اِيمان تقاضه ده، اوګورئ! مونږه په **الله** پاك باندې د هغه د ټولو صِفاتو سره اِيمان لرو: **اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ بِجَمِيْعِ صِفَاتِهٖ** (ما په **الله** پاك باندې د هغه د ټولو صِفاتو سره اِيمان راوړے دے). د **الله** پاك په صِفاتو كښې يو صِفَت **الصَّمَدُ** هم دے يعني **الله** پاك بے نيازه دے، د چا محتاجه نه دے. نو چې مونږه د هغه په دې صِفَت باندې اِيمان راوړے دے نو د دې تقاضه ده چې مونږه د هغه د بے نيازئ نه اُويَرېږو، فرض كړئ كه زمونږ سره ډيرې نيكئ وي، ټوله ټوله شپه سجدے كوو، ټوله ټوله ورځ روژے نيسو، ټول ژوند مو يوه ګناه هُم نه وي كړې نو بيا هم څومره نعمتونه چې **الله** پاك مونږ ته راكړي دي، په هغې كښې د يو نِعمَت هُم پورا پورا حق مونږ كله ادا كړے دے؟ **الله** پاك بےنيازه دے، كه په ورځ د قيامت زمونږه ټولې نيكئ د تلې په يو چابړې كښې كيښودے شي او د **الله** پاك صرف يو نِعمَت په دويم چابړې كښې كيښودے شي نو زمونږ د ټول ژوند نيكئ د هغه د يو نِعمَت بدله نه شي كيدے او يقيناً بدله نه شي كيدے. لږ غور اوكړئ! كه داسې حساب واخستے شي نو مونږ به څه كوو؟

معلومه شوه: چې مونږه **الله** پاك بے نيازه منو نو دا منل د دې خبرې تقاضه كوي چې مونږه د **الله** پاك د بے نيازئ نه اُويَرېږو.

دغه شان د **الله** پاك يو صِفَت قَهَّار هم دے يعني **الله** پاك غضب كوونكے دے، **الله** پاك قهر كوونكے دے. د **الله** پاك په صِفَتِ قَهَّار باندې د اِيمان تقاضه هم دا ده چې مونږه د **الله** پاك د قهر نه، د هغه د غضب نه او د هغه د ناراضئ نه اُويَرېږو. د **الله** پاك په دې صِفاتو باندې چې د چا څومره اِيمان كمزورے كيږي، د **الله** پاک نه ويره

لرلو کښې به ئې هُم هغه همره کمے راځي او چې څومره ئې پرې اِيمان مضبوطيږي، هغه همره به ئې د الله نه ويره هُم زياتيږي. معلومه شوه چې د **الله** پاك د پټ تدبير نه ويره، د **الله** پاك د ناراضئ نه ويره، د **الله** پاك د قهر و غضب نه ويره زمونږ د اِيمان تقاضه ده.

## د خوفِ خُدا قرآني حکم

په سيپاره4، سورهٔ آلِ عمرٰن، آيت: 102 کښې ارشاد دے:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ

(پارہ:4، سورۂ آلِ عمران، آيت:102)

مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: اے اِيمان والؤ! د الله نه اُويَريږئ څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دے.

څنګه واضحه فرمان دے: اے اِيمان والؤ! د **الله** پاك نه اُويريږئ...! څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دے. دا خاص د توجه ساتلو خبره ده چې **حَقَّ تُقٰتِهٖ** يعني د **الله** پاك نه داسې اُويَريږئ څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دے. داسې خو يو مسلمان هم نه وائي چې زه د **الله** پاك نه، نه ويريږم خو د **الله** پاك نه د ويريدلو چې کومې درجے دي، مَثَلاً بنده دِ ځان د ګناهونو نه اوساتي، د **الله** پاك د نافرمانئ نه دِ بچ اوسي، په شوق سره دِ نيکئ کوي، ډير عبادت دِ کوي، د اسلام په تعليماتو باندې دِ واقعي په صحيح معنو کښې عمل کوي، دا چې کومې د الله د ويرې نښې دي، دا هم په بنده کښې موجودې وي نو دې ته به وائي: **حَقَّ تُقٰتِهٖ** يعني د **الله** پاك نه داسې اُويَريږئ څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دے.

## د "حَقَّ تُقٰتِهٖ" درې مثالونه

حضرت داوٗد عَلَیْہِ السَّلَام د **اللّٰه** پاك نبـي دے، يو ځل په هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام باندې د **اللّٰه** پاك ويره دومره غالبه شوه چې د ځلويښتو ورځو پورې ئې د سجدے په حالت کښې ژړل، تر دې پورې چې د هغوئي د اوښکو اوبو سره په زمکه بوټي را اوختل.(1) دا دے: **حَقَّ تُقٰتِهٖ** يعني د **اللّٰه** پاك نه داسې اُويَرېږئ څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دے.

حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام د **اللّٰه** پاك خليل دے، هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام به د **اللّٰه** د ويرې نه دومره زيات ژړل چې د هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام د سينے د خوټکيدلو آواز به د يو ميله پورې اوريدے شو. اِمام غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نقل کوي: چې کله به حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام د **اللّٰه** د ويرې نه ژړل نو **اللّٰه** پاك به حضرت جبريل عَلَیْہِ السَّلَام راوليږلو، حضرت جبريل عَلَیْہِ السَّلَام به عرض کولو: اے ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام! **اللّٰه** پاك فرمائي: آيا تاسو داسې دوست ليدلے دے چې خپل دوست ته عذاب ورکوي؟ حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام به چې دا اوريدل نو فرمائيل به ئې: اے جبريل عَلَیْہِ السَّلَام! چې کله زه خپل ځان ته اوګورم نو دا را نه هير شي چې زه د **اللّٰه** پاك خليل يم.(2) دا دے: **حَقَّ تُقٰتِهٖ** يعني د **اللّٰه** پاك نه داسې اُويَرېږئ څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دے.

حضرت ابوبکر صِدّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اسلام ورومبے خليفه دے، **اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن** دے، د انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام نه پس په ټولو انسانانو کښې د ټولو نه افضل دے، يو ځل هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شپے د قرآنِ کريم تلاوت کولو، دا آيت کريمه ئې چې اولوستلو:

اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ | مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: بيشکه الله مسلمانانو نه د

1 ...احياء العلوم مترجم، جلد: 4، صفحه: 533۔
2 ...منهاج العابدين مترجم، صفحه: 394۔

اَنۡفُسَهُمۡ وَ اَمۡوَالَهُمۡ بِاَنَّ لَهُمُ الۡجَنَّةَ ؕ (پارہ:11، سورۂتوبہ، آیت:111)

هغوئي ځانونه او د هغوئي مالونه په دې بدله كښې اخستي دي چې د هغوئي د پاره جَنَّت دے.

د دې آيت په لوستلو باندې حضرت ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په ژړا شو، ژړل ئې، ژړل ئې تر دې پورې چې سحر شو، هغه وخت ئې هم د ستركو نه اوښكې رواني وے، چا ترينه تپوس اوكړو: محترمه! تاسو دومره ولے اوژړل؟ اوئې فرمائيل: **اللّٰه** پاك جَنَّت ته زمونږ د ځان او مال قيمت وئيلے دے، اوس مُعامَله دا ده چې د يو څيز قيمت هله ميلاويږي چې هغه څيز بے عيبه وي، صحيح سلامت وي، عيب دار څيز څوك نه اخلي. جَنَّت زمونږ د ځان قيمت دے، په ورځ د قيامت چې كله د **اللّٰه** پاك په باركاه كښې حاضر شو، هغه وخت خُدانخواسته كه دا اوفرمائي چې: ستاسو دا ځان د كوم په بدله كښې چې جَنَّت ميلاويدو والا وو، ستاسو دا ځان ناكاره دے، په دې كښې په زرګاؤ عيبونه دي، د داسې ځان په بدله جَنَّت نه شي ميلاويدے نو هغه وخت به زمونږ څه حالت وي؟ په دې سوچ كښې ما ټوله شپه اوژړل. [1]

اَللّٰہُ اَکۡبَر! دا دے: **حَقَّ تُقٰتِهٖ** يعني د **اللّٰه** پاك نه داسې اُويَرېږئ څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دے. بنده دِ خپلو نيكو ته نه ګوري، خپل ښه والي ته دِ نه ګوري، خپل مقام او مرتبے ته دِ نه ګوري بلكه د **اللّٰه** پاك بےنيازئ ته دِ اوګوري او د هغه نه دِ اُويَرېږي، داسې دِ اُويَرېږي چې په زړه كښې ئې ويره پيدا شي، د ستركو نه ئې اوښكې رواني شي او بنده دِ د خپل ربّ په باركاه كښې داسې ټِيټ شي چې بيا كله هم نافرماني اونكړي، دا دي د **اللّٰه** پاك نه داسې ويريدل څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دے.

1 ...انوارِ جمالِ مصطفےٰ، صفحه:177، خلاصةً۔

## د مِثالی مُعاشرے د پاره د الله ويره اَوَّل شرط دے

اے عاشِقانِ رسول! دا **خَوفِ خُدا** يعني د **الله** پاك داسې ويره څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دے، دا ويره كه مونږ ته نصيب شي نو يقين اوكړئ چې! ❀ زمونږ مُعاشره به مثالي مُعاشره جوړه شي ❀ زمونږ د مُعاشرے نه به ټولې بدئ ختمې شي ❀ د ګناهون اډے به شړې شي او پورا مُعاشره به په دُنيا كښې د جَنَّت تصوير جوړ شي. اګرچې د ګناهونو، جرمونو نور هم اسباب دي، په دې ټولو كښې ډير اَهَم او بنيادي سبب د الله نه د ويرې كمے هم دے. ❀ شراب ولے څښلے كيږي؟ د **خوفِ خدا** د كمي په وجه ❀ انسان بدكارئ طرف ته ولے ځي؟ د **خوفِ خُدا** د كمي په وجه ❀ سُود ولے خوري؟ د **خوفِ خُدا** د كمي په وجه ❀ غلا، ډاكے ولے كيږي؟ د **خوفِ خُدا** د كمي په وجه ❀ ناحقه قتلونه ولے كيږي؟ د **خوفِ خُدا** د كمي په وجه ❀ د جوارئ اډے ولے چليږي؟ د **خوفِ خُدا** د كمي په وجه ❀ خلقو ته ناحقه تكليف ولے وركولے كيږي؟ د **خوفِ خُدا** د كمي په وجه ❀ غِيبَتِ، **چُغلي**، وعده خلافي، كنزلې ولے كيږي؟ د **خوفِ خُدا** د كمي په وجه ❀ په كورونو كښې جګړې ولے كيږي؟ د **خوفِ خُدا** د كمي په وجه ❀ په ناپ، تول كښې كمے ولے كيږي؟ د **خوفِ خُدا** د كمي په وجه، غرض دا چې د دې ټولو ګناهونو بنيادي سبب د **خوفِ خُدا** كمے دے. لِهٰذا كه مونږه خپله مُعاشره مثالي مُعاشره جوړول غواړو، كه د خپلې مُعاشرے نه ګناهونه ختمول غواړو نو د دې د پاره مونږ ټولو له په خپلو زړونو كښې د **الله** پاك ويره پيدا كول ضروري دي.

## خوفِ خُدا د اِسلام بُنيادي تعليم دے

لږ غور اوكړئ! زمونږ د خوږ آقا، مَكِّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو نه مخكښې هغه كومې بدئ وے چې په عربو كښې به نه وے؟ د

جاهِلِيَّت په زمانه کښې بدکاري عامه وه، شراب عام وو، بےحيائي عامه وه، سُود عام وو، رشوت عام وو، بلکه د دې نه زياته به بله کومه بدي وي چې په دُنيا کښې کفر و شرك عام وو، د خانۀ کعبے په خوا کښې هم د شرك اسباب [يعني بُتان] موجود وو. زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته رَحْمَةٌ لِّلْعَالَمِيْن جوړ کړے شوے تشريف راوړو، چې خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نَبُوَّت اعلان اوفرمائيلو نو هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته چې په ښکاره طور د اِسلام د دعوت ورکولو کوم حکم ورکړے شو، هغه دا وو:

| | |
|---|---|
| قُمْ فَاَنْذِرْ ﴿۲﴾ (پارہ:29، سورۂ مدثر، آیت:2) | مفہوم ترجمہ کنز العرفان: اودريږه، بيا [خلقو ته د اللّٰه] ويره واوروه. |

يعني د اسلام د اعلانيه تبليغ وړومبے حکم په **خوفِ خُدا** باندې مشتمل وو، بيا خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صَفَا په غَر اودريدلو او د اسلام کوم وړومبے اعلانيه تبليغ ئې چې اوفرمائيلو، په هغې کښې هم خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خلقو ته د **اللّٰه** پاك نه د ويرې درس ورکړو.

بيا زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اللّٰه ويره د خلقو په زړونو کښې پيدا کړه او د جاهِلِيَّت د زمانے خرابه مُعاشره ئې داسې **مِثالي مُعاشره** جوړه کړه چې د داسې مُعاشرے مِثال په ټوله دُنيا کښې نشته، هم دغه **مِثَالي مُعاشره** ده کومه چې د قيامته پورې د راروانو مُعاشرو د پاره بهترينه نمونه ده. معلومه شوه چې د مُعاشرے د صحيح کولو د پاره، **مثالي مُعاشره** جوړولو د پاره **خوفِ خُدا** اهم ترين بنياد دے.

## د مثالي مُعاشرے دوه اَهَم صِفَتونه

دلته دا خبره د غور او د ځان پوهه کولو ده چې **مثالي مُعاشره** څه ته وائي؟ په دې باندې تفصيلي بيان کيدے شي، پورا پورا کتابونه پرې ليکل کيدے شي، البته مُختصر طور دا چې د يوے مثالي مُعاشرې دوه اهم بنيادونه دي:

(1) چې د هغه مُعاشرے خلق د يو بل حق تلفي نه کوي، په يو بل ظُلم نه کوي، او (2) چې د هغه مُعاشرے هر يو کس نورو سره د خيرخواهۍ، او خير ښيګړې جذبه لري.

دا دواړه خبرې چې په کومه معاشره کښې موجودې وي، هغه مُعاشره به امن و سکون والا مُعاشره وي او په هغه مُعاشره کښې به جُرمونه هُم د نه کيدو برابر وي. او دا دواړه خبرې (يعنې حق تلفي نه کيدل او د خيرخواهۍ جذبه لرل) د **خوفِ خُدا** په ذريعه حاصليدے شي. يعنې که د خلقو په زړونو کښې د الله ويره پيدا شي نو د دې په برکت به حق تلفۍ [يعنې د خلقو حقونه وهل] ختم شي او د خيرخواهۍ جذبه به هم پيدا شي. راځۍ چې دا خبره د دوو واقعو په رنړا کښې واورو او ځان پرې پوهه کوو:

## د خوفِ خُدا په سبب را غوزار شو

د **حضرت مِسعَر بِن کِدام** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه روايت دے، يوه ورځ مونږه د اِمام اعظم ابوحنِيفه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ سره په يو ځائے تيريدلو، په بےخيالۍ کښې د اِمامِ اعظَم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ښپه مبارکه د يو هلك په ښپه دپاسه راغله، هلك چغه کړه او د خُلې نه ئې ناڅاپه اووتل: **يَا شَيۡخُ اَلَا تَخَافُ الۡقِصَاصَ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ** يعنې محترمه! آيا تاسو په ورځ د قيامت د قِصَاص [يعنې بدله اخستلو] نه، نه ويريږئ؟ اِمامِ اعظَم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ چې د هغه هلك دا خبره واوريدله نو په لړزان شو، په زمکه راپريوتلو او بےهوشه شو. (1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! د اِمامِ اعظَم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ښپه مبارکه صرف په بے خيالۍ کښې د هلك د ښپې دپاسه راغله، هغوئي قصداً داسې نه وو کړې، د هغه هلك د خُلې نه هُم هغه جمله بے خيالۍ کښې اووتله خو په دې جمله کښې په ورځ د قيامت د **الله** پاك په بارګاه کښې د حاضريدلو ذِکر وو، اِمامِ اعظَم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته

---

1 ...اشکوں کی برسات، صفحہ:17۔

چې د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې د حاضریدلو خیال ورغلو، نو په لړزان شولو په زمکه راپریوتلو او بے هوشه شو. غور اوکړئ! کوم بنده چې دومره زیات د **اللّٰه** پاك نه ویریږی، آیا هغه به د چا حق تلفي اوکړي؟ آیا هغه به چا ته رد بد اووائي؟ آیا هغه به د چا مال اووهي؟ آیا هغه به څوك ناحقه خفه کړي؟ آیا هغه به د خلقو خوب خراب کړي؟ آیا هغه به د خلقو بےعِزّتي اوکړي؟ هیڅ کله نه، بلکه څوك چې د اللّٰه ویره لري هغه به هر وخت د خلقو د حقونو خیال ساتي. معلومه شوه چې که مونږ ته د اللّٰه نه ویره نصیب شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د مُعاشرے نه به جرمونه او حق تلفئ بالکل ختمې شي.

## مفتــئ اعظم هند رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه او جذبهٔ خیرخواهي

یو ځل رئِیسُ القلم، عَلّامه ارشدُ القاري صاحب رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه شهزادهٔ اعلیٰ حضرت مُفتــئ اعظم هند مولانا مصطفیٰ رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه ته خپلې مدرسے **مدرسه فَیضُ الْعُلُوْم** ته د تشریف راوړلو دعوت ورکړو، مُفتــئ اعظم هند رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه تشریف راوړو، بیرته چې ریلوے اِسټیشن ته تللو د پاره مُفتــئ اعظم هند رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه په رکشه کښې کښیناستلو نو یو کس حاضر شو، عرض ئې اوکړو: جناب! فلانئ پریشانئ کښې اخته یم، تعویذ را ته راکړئ! عَلّامه ارشدُ القاري صاحب رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه هغه کس ته اوفرمائیل: د ریل ګاډي وخت شوے دے او ته اوس د تعویذ د پاره وائے! مُفتــئ اعظم هند رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه عَلّامه ارشدُ القاري صاحب رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه منع کړو. عَلّامه صاحب رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه عرض اوکړو: جناب! ریل ګاډے به اوځي. په مُفتــئ اعظم هند رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه باندې د **خوفِ خُدا** جذبه غالبه شوه، اوئې فرمائیل: لاړ دِ شي. په بل ریل ګاډي کښې به لاړ شم. صبا په ورځ د قیامت که رانه **اللّٰه** پاك تپوس اوکړي چې تا زما د فلاني بنده په پریشانئ کښې

مدد ولے نه وو کړے نو زه به څه جواب ورکووم؟ دا ئې اُووئيل او د رکشے نه ئې ټول سامان کوز کړلو. (1)

**اے عاشِقانِ رسول!** غور اوکړئ! حُضُور مُفتیٔ اعظم هند رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه **خوفِ خُدا** والا وو، هغوئي د قيامت په ورځ د **الله** پاک په بارګاه کښې دحاضريدلو ويره لرله، هغوئي د يو درد مند مسلمان د خيرخواهئ د پاره د ريل ګاډي تلل برداشت کړل خو د هغه د زړه ساتلو نه بغير ئې تلل منظور نه کړل. اوس غور اوکړئ! د مسلمانانو وروڼړو د خير خواهئ دا جذبه که مونږ ته هم نصيب شي نو زمونږه مُعاشره به څنګه ښکلي او ښائسته شي، جنګ جګړې به ختمې شي، د ردو بدو تَصَوُّر به پاتې نه شي، حَسَد، بُغض و کينه وغيره دا ټولې باطني بيمارئ به د مُعاشرے نه ختمې شي. او دا به څنګه کيږي؟ د **خوفِ خُدا** په ذريعه.

معلومه شوه چې يوه مُعاشره مَثالي مُعاشره جوړولو د پاره اهم او بنيادي څيزونه: د حق تلفئ نه بچ کيدل او خيرخواهي کول دي، دا دواړه د **خوفِ خُدا** په ذريعه ډير ښه حاصليږي، لِهٰذا په مُعاشره کښې بدلون راوستلو او مثالي معاشره جوړولو د پاره **خوفِ خُدا** ډير لازم او ضروري دي. **الله** پاك دِ مونږ ټولو ته د **خوفِ خُدا** نِعمَت رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ژوند د مقصد مکمل کولو ذريعه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** راځئ چې په يو بل انداز کښې د **خوفِ خُدا** په اَهَمِّيَّت باندې د پوهيدلو کوشش اوکړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږه انسانان يُو او **الله** پاك

1 ...فيضانِ سُنَّت، صفحه:111۔

انسانان د څه د پاره پيدا کړي دي؟ **اللّٰه** پاك فرمائي:

| | |
| --- | --- |
| وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ (پاره:27، سورۂ الذاريات، آيت:56) | مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: او ما پيريان او انسانان د دې د پاره پيدا کړي دي چې زما عبادت اوکړي. |

يعنې د انسان دُنيا ته د راتللو مقصد د **اللّٰه** پاك **عبادت کول** دي. مونږ به د خپل ژوند دا مقصد څنګه پورا کړو؟ مونږ به عبادت ګزار څنګه جوړ شو؟ اِمام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په **مِنۡهَاجُ الۡعَابِدِيۡن** کښې په دې باره کښې يو عُنوان ذِکر کړے دے: **عَقَبَةُ الْبَوَاعِثْ** يعنې کوم څيزونه چې د عبادت ترغيب ورکوي، د کومې په ذريعه چې د عبادت شوق پيدا کيږي او بنده په استقامت سره د خپل ژوند په مقصد کښې کامياببدے شي. د دې عنوان لاندې امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دوه څيزونه بيان کړي دي: (1) **خوفِ خُدا** (2) **د رحمت اُمّيد**. امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د عبادت په لاره تر هغه وخته پورې تلل ممکن نه دي تر څو پورې چې ته په ځان کښې د **خوفِ خُدا** او د رحمت د اُمّيد صِفَتونه پيدا نکړې. امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نور فرمائي: **نَفۡسِ اَمَّاره** د بدئ ډير شوقين دے، دا [**نَفۡسِ اَمَّاره**] تر هغه وخته پورې د ګناهونو نه، نه قلاريږي، تر څو پورې چې زبردست **خوفِ خُدا** پيدا نه کړے شي. لِهٰذا **نَفۡسِ اَمَّاره** د عبادت په لاره روانولو د پاره ضروري دي چې په دې باندې هر وخت د **خوفِ خُدا** کوړه مُسَلَّطه اوساتلے شي. بيا عبادت ګزار جوړيدلو د پاره **خوفِ خُدا** په دې وجه هم ضروري دے چې د عبادت په لاره کښې خطرے ډيرې دي مثلاً تکبر، خپل ځان ښه ګنړل او نور ډير څيزونه دي کوم چې عبادت بربادوي، د دې ټولو نه د بچ کيدلو يوه طريقه ده چې بنده په خپل ځان کښې **خوفِ خُدا** پيدا کړي، هر وخت د **اللّٰه** پاك د بے نيازئ نه په

ويره کښې اوسي، د عذابِ قبر نه، دوزخ نه او په بارګاهِ اِلٰهي کښې د حاضريدو نه مسلسل ويره لري. د دې نه بغير عبادت ګزاره جوړيدل ممکن نه دي. (1)

# د خوفِ خُدا حاصلولو طريقے

اے عاشِقانِ رسول! مونږه د **خوفِ خُدا** د اَهَمِّيَّت په باره کښې واوريدل، **خوفِ خُدا** هٰغه بنيادي عمل دے چې د دې په ذريعه مونږه په خپل مقصد کښې کاميابيدے شو، مونږه د **خوفِ خُدا** په ذريعه د ګناهونو نه ځان ساتلے شو، د **خوفِ خُدا** په ذريعه زمونږه معاشره مثالي مُعاشره جوړيدے شي. خو سوال دا دے چې په مونږه کښې به **خوفِ خُدا** څنګه پيدا شي؟ ۞ د دې د پاره د قرآنِ کريم تلاوت خپل معمول جوړ کړئ، خاص طور هغه آيتونه په کومو کښې چې د **الله** پاك د عذاب ، د دوزخ او د آخرت ذِکر دے، د داسې آيتونو ترجمه او تفسير اولولئ او ياده ئې ساتئ، بيا بيا ئې تلاوت کوئ. ۞ داسې احاديث لولئ په کومو کښې چې د **خوفِ خُدا** بيان دے ۞ هغه کتابونه اولولئ په کومو کښې چې د **خوفِ خُدا** بيان دے، ۞ د **خوفِ خُدا** لرونکو بُزُرګانِ دينو سيرت اولولئ، ۞ يو جدول [يعني ټائم ټيبل] جوړ کړئ، هره ورځ يا کم از کم په هفته کښې يو ځل مقبرے ته ځئ، هلته فاتحه لولئ او د دې سره سره په دې خبره غور کوئ چې نِزدې ده زه به هم قبر ته ځم، هغه وخت به زما د بے وسئ څه حالت وي؟ بيا د قبر په مُعاملاتو غور اوکړئ، ۞ په زړه کښې **خوفِ خُدا** پيدا کولو او زياتولو د پاره يو مدني ګل کوم چې د امام غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د تعليماتو نه حاصليږي، هغه دا دے چې د **خوفِ خُدا** د درجو لحاظ اوساتلے شي، اِمام غزالي رَحۡمَةُاللهِ

---

1 ...منهاج العابدين، صفحه:370369 خلاصةً۔

عَلَيۡه په **مِنۡهَاجُ الۡعَابِدِيۡن** کښې **خوفِ خُدا** په خطراتو يعني په زړه کښې پيدا کيدونکو خيالاتو کښې شميرلے دے، دا د **خوفِ خُدا** اَوَّله درجه ده، يعنې په شروع کښې **خوفِ خُدا** صرف د يو خيال په شان وي، په زړه کښې راشي، بيا ختم شي، کله ناڅاپه د قبر خيال راشي، کله د آخرت د ورځې خيال راشي چې د **الله** پاك په بارګاه کښې به حاضريږم، کله د دوزخ خيال راشي، دا خيال بس يو څو سيکنډه وي، او دا خيال د **خوفِ خُدا** مُتَعَلِّق لوستلو سره، د **خوفِ خُدا** په باره کښې بيانونو وغيره اوريدلو سره نصيب کيږي، بيا چې کله دا خيالونه په زړه کښې راځي نو ضروري ده چې دا خيالات په زړه کښې اوساتلے شي، مثلاً هره ورځ يواځې کښينو او د قبر و آخرت تَصَوُّر اوکړو، بيا بيا مقبرے ته لاړ شو، داسې د **خوفِ خُدا** د خيالونو تَصَوُّر کولو سره به په قلاره قلاره دا خيالونه په زړه کښې پاخه شي، بيا به دا **خوفِ خُدا** يو صِفَت جوړ شي، دا د **خوفِ خُدا** هغه درجه ده کومه چې اِمام غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په **مقامِ خوف** کښېفرمائيلي ده.

د **خوفِ خُدا** مُتَعَلِّق او نورو موضوعاتو باندې ديني کتابونو د پاره د دعوتِ اسلامي اداره مکتبةُ المَدينه ته راشئ، دلته ډير قيمتي کتابونه او رسالے په لږه هديه طلب کولے شئ. د دعوتِ اسلامي آئي. ټـی ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن: ***Islamic Ebook Library*** (اسلامِک اِی بُک لائبریری) جاري کړے دے. د دې ايپلي کيشن په ذريعه د مکتبةُ المَدينه نه چاپ شوي کتابونه مفت ډاؤن لوډ کولے شئ. دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، ځپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو ته ئې هم ترغيب ورکړئ.

# 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: هفته واره اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په خپل زړه كښې **عِشقِ رسول** او **خوفِ خُدا** زياتولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك **دعوتِ اسلامي** دِيني ماحول سره وابسته شئ، د دعوتِ اسلامي دولسو 12 ديني كارونو كښې ښه د زړه په اخلاص حِصَّه واخلئ، د دې په بركت به اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د **خوفِ خُدا** او **عِشقِ مصطفٰى** نِعمَت در نصيب شي، د نيكئ كولو، ګناهونو نه د ځان ساتلو او د اِيمان د حفاظت ذِهن به مو جوړ شي. د ذِيلي حلقے دولسو ديني كارونو كښې يو ديني كار **هفته واره اجتماع** هم ده.

## ما به هره ورځ دوه فلمونه كتل

د جيكب آباد (صوبه سندھ، پاكستان) د يو اسلامي ورو د بيان خُلاصه ده: زه به په ګناهونو كښې ډير اخته اوسيدم، عام طور به ما هره ورځ دوه فلمونه كتل، يو ځل زه د خپل دوست سره ملاقات د پاره حيدرآباد (سندھ) ته لاړم، دا د پنجشنبے [يعني د زيارت] ورځ وه، زما دوست د دعوتِ اسلامي هفته واره اجتماع كښې شريك كيدلو د پاره زه د ځان سره بوتلم، هلته ما د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ بيان واوريدلو نو زما په ژوند كښې اِنقلاب راغلو، ما د **خوفِ خُدا** په سبب ډير اوژړل، د ګناهونو نه مې توبه اوكړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شوم.

اسی ماحول نے ادنٰی کو اعلٰی کر دیا دیکھو | اندھیرا ہی اندھیرا تھا، اُجالا کر دیا دیکھو

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ګيره پريښودل سُنَّتِ مصطفٰى دي

**فرمانِ مصطفٰى** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: بريت کټ کړئ، ګيرې غټې کړئ، د مجوسيانو مُخالَفَت اوکړئ! (1)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** ګيره پريښودل سُنَّتِ مُصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي بلکه سُنَّتِ انبياء دي ❀ زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګيره مبارکه به هميشه د يو موټې په مقدار وه ❀ که د يو موټې نه به زياته شوه نو کموله به ئې ❀ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګيره مبارکه په پلن والي کښې داسې وه چې سينه مبارکه به ترينه ډکه وه. (2)

❀ زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ګيره خرئيل او بريت غټول سخت ناخوښه ګڼړل ❀ په بهارِ شريعت کښې دي: ګيره خرئيل يا د يو موټې نه کمول حرام دي. (3)

---

1 …مسلم، كتابُ الطهارت، باب: خِصَالُ الْفِطْرة، صفحه:153، حديث:257۔
2 …انوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحه:157 خلاصةً۔
3 …بهارِ شريعت، حصه:16، جلد:2، صفحه:586۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

قِسماقِسم سنّتونه زده كولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه كتابونه (۱) د 312 صفحو كتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو كتاب "سُنّتيں اور آداب" هديه كړئ او اولولئ. د سُنّتو د تربيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو كښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لَوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت

نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[3] راځئ چې

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

3...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

---

1...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

2...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵